# فضل الإسلام

# د اسلام فضيلت.

## د اسلام فضیلت.

امام محمد بن عبدالوهاب.

***باب دی په فرضیت د اسلام کې***

...او د الله تعالی دا قول:

{ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ}

{او هر څوك چې له اسلامه پرته بل دين لټوي نو هيڅ كله به ترې قبول نه شي او هغه به په اخرت كې له تاوانيانو وي}[1]
د آل عمران سورت: ٨٥ آیت) او د الله تعالی دا قول:

{ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ} [2]

{او دا چې دا زما نېغه سمه لار ده نو پيروي يې وكړئ، او په نورو لارو پسې مه ځئ چې بيا به مو د هغه له لارې خواره واره كړي}[2] (الأنعام: ١٥٣)

مجاهد ویلي: د السبل مطلب: بدعتونه او شبهې دي.

او له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې د الله رسول -صلی الله علیه وسلم- وویل:

{ من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد } ،

---

1 آل عمران سورت ٨٥ آیت.
2 الأنعام سورت ١٥٣ آیت.

(چا چې زمونږ په دې کار (دین) کې داسې نوی شی پیدا کړ، چې پکې نه و؛ نو هغه رد دی).[1] په نورو الفاظو کې دي:

{ من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهو رد }.

(چا چې داسې یو کار وکړ چې مونږ پرې امر نه دی کړی، نو هغه رد دی).[2]

او بخاري له أبي هريرة -رضي الله عنه- نه روایت کړی هغه وايي: د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- ویلي:

{ كل أمتي يدخلون الجنة إلا من أبى - قيل: ومن أبى؟ قال: من أطاعني دخل الجنة ومن عصاني فقد أبى } [5].

(زما ټول امت به جنت ته داخلیږي، پرته له هغو چې منع راوړي -وويل شو: او څوک منع راوړي؟- ویې ویل: چا چې زما اطاعت وکړ؛ جنت ته به ننوځي او چا چې زما نافرماني وکړه، نو منع یې راوړه).[3]

په صحیح کې له ابن عباس -رضي الله عنهما- نه روایت دی، چې د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- فرمایلي:

{ أبغض الناس إلى الله ثلاثة: ملحد في الحرم، ومبتغ في الإسلام سنة الجاهلية، ومطلب دم امرئ مسلم بغير حق ليهريق دمه } [6]

---

1 بخاري الصلح (٢٥٥٠)، مسلم الأقضية (١٧١٨)، أبو داود السنة (٤٦٠٦)، ابن ماجه المقدمة (١٤)، أحمد (٦/ ٢٥٦).

2 بخاري الصلح (٢٥٥٠)، مسلم الأقضية (١٧١٨)، أبو داود السنة (٤٦٠٦)، ابن ماجه المقدمة (١٤)، أحمد (٦/ ٢٥٦).

3 بخاري الاعتصام بالكتاب والسنة (٦٨٥١)، مسلم الإمارة (1835), أحمد (361 /2)

{درې کسان د الله ډېر بدې شي: په حرم شريف کې ملحد، په اسلام کې د جاهليت د کارونو لټوونکی، او په ناحقه د مسلمان شخص د وينې پسې تلاش کوونکی، څو يې وينه توی کړي}.[1]
(بخاري روايت کړی) د دې حديث لاندې هر جاهليت راځي، که مطلق وي او که مقيد، يعنې چې په يوه شخص کې وي بل کې نه، که کتابيت وي، که بت پرستي وي او که لدې پرته نور، چې د پېغمبرانو د راوړو دينونو د هر مخالف له لوري وي.

په صحيح کې له حذيفه -رضي الله عنه- نه روايت دی، وايي: ای د قاريانو ټوليه، نېغه لار ونيسئ، ځکه تاسو -پر نورو- ډېر ښکاره مخکې والی کړی -هر خير ته-، - نو که له نېغې لارې ښي او کيڼ لور ته شوئ، نو سخته بېلارې به مو کړې وي.

له محمد بن وضح نه روايت دی: چې دی به مسجد ته ننوت نو پر حلقو به ودرېد او د يادګيرنې له مخې به يې ويل: موږ ته ابن عيينة خبر راکړی، له مجالد نه، له شعبي نه، له مسروق نه، چې عبد الله -يعنې ابن مسعود- ويلي، هيڅ کال نه (تېرېږي)مګر هغه ترې ډېر د شر والا دی چې ورپسې وي، زه دا نه وايم چې يو کال به له بله ډېر زرغون وي، يا يو امير به له بله غوره امير وي، خو ستاسو د علماوو او ښو خلکو تګ يادوم، بيا به نوي خلک راشي، کارونه به په خپلو رايو پرتله کوي، نو اسلام به ونړوي او ويجاړ به يې کړي.

1 بخاري الديات (۶۴۸۸).

## باب دی د اسلام په تفسیر کې

او د الله تعالی دا قول:

{ فَإِنْ حَاجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ} [7]

{نو كه دوی شخړه درسره كوله ورته وايه: ما هم ځان الله ته سپارلی او هغوی هم چې زما متابعت يې كړی}[1] (آل عمران: ٢٠) آيت.

په صحيح كې له ابن عمر -رضي الله عنهما نه راغلي، چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي:

{ الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله، وأن محمدا رسول الله، وتقيم الصلاة، وتؤتي الزكاة، وتصوم رمضان، وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلا } [8].

{اسلام دا دی چې ته ګواهي وركړې چې له الله پرته د بندګۍ وړ هيڅوک نشته، او دا چې محمد -صلى الله عليه وسلم- د الله رسول دی؛ لمونځ قايم كړې، زكات وركړې، د رمضان روژه ونيسې او كه په وس كې دې وه -د بيت الله شريف- حج ادا كړې}[2]

او په دې اړه له ابو هريرة -رضي الله عنه- نه مرفوع روايت دی:

{ المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده }.

---

1 آل عمران سورت. ٢٠ آيت.

2 مسلم الإيمان (٨)، ترمذي؛ الإيمان (٢٦١٠)، النسائي؛ الِايمان وشرائعه(٤٩٩٠)أبوداود السنة (٤٦٩٥)، ابن ماجه مقدمة (٦٣)، أحمد (١/ ٥٢).

{-كامل- مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرره خڅه خوندي وي}[1]

له بهز بن حكيم نه روايت دی، هغه له خپل پلار نه، له خپل نيكه نه، چې هغه رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وپوښت، نو ويې ويل:

{أن تسلم قلبك لله، وأن تولي وجهك إلى الله، وأن تصلي الصلاة المكتوبة، وتؤتي الزكاة المفروضة}

{چې خپل زړه الله ته وسپارې، او خپل مخ الله ته ورواړوې، او فرض لمونځونه ادا كړې، او فرض زكات وركړې}[2].

داحديث امام احمد روايت كړی دی.

وعن أبي قلابة عن عمرو بن عبسة عن رجل من أهل الشام عن أبيه { أنه سأل رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ما الإسلام؟ قال: أن تسلم قلبك لله ويسلم المسلمون من لسانك ويدك، قال: أي الإسلام أفضل؟ قال: الإيمان، قال: وما الإيمان؟ قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله والبعث بعد الموت } .[11]

له أبو قلابة نه روايت دی، هغه له عمرو بن عبسة، هغه د شام د خلكو له يوه سړي نه، هغه له خپل پلار نه، {چې ده له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- نه پوښتنه وكړه: اسلام څه ته وايي؟ ويې ويل: چې خپل زړه الله ته وسپارې، او مسلمانان دې له ژبې او لاس څخه خوندي شي. ويې ويل: كوم اسلام

---

1 ترمذي؛ الإيمان (٢٦٢٧)، نسائي؛ الإيمان وشرائعه (4995)، أحمد (٢/ ٣٧٩).

2 نسائي؛ الزكاة (2436)، أحمد (٥/ ٣).

غوره دی؟ ویې ویل: ایمان، ویې ویل: ایمان څه ته وایي؟ ویې ویل: چې پر الله، پرښتو، کتابونو، پیغمبرانو او له مرګه وروسته پر بیا راژوندي کېدو ایمان ولرې}.[1]

***باب دی د الله تعالی د دې قول په اړه: "ومن يبتغ غير الإسلام دينا فلن يقبل منه" یعنې: او هر څوک چې له اسلامه پرته بل دین لټوي نو هېڅکله به ترې قبول نه شي.***

او له ابو هريرة -رضي الله عنه- نه روایت دی، وایي: د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- ویلي:

{ تجيء الأعمال يوم القيامة فتجيء الصلاة فتقول: يا رب أنا الصلاة فيقول: إنك على خير، ثم يجيء الصيام فيقول: إنك على خير، ثم تجيء الأعمال على ذلك فيقول: إنك على خير، ثم يجيء الإسلام فيقول: يا رب إنك السلام وأنا الإسلام فيقول: إنك على خير، بك اليوم آخذ وبك أعطي قال الله تعالى:

{اعمال د قیامت په ورځ راځي، لمونځ به راشي او وبه وايي: ای ربه! زه لمونځ یم، الله به ووايي: ته دې په خیر یې، بیا به روژه راشي او وبه وايي: ته ښه یې، بیا به ټول اعمال همداسې راځي او وايي به، ته په خیر یې، بیا به اسلام راشي او وبه وايي: ای ربه، ته سلام یې او زه اسلام، نو وبه وايي، ته دې په خیر یې، نن ورځ زه په تا نیول هم کوم او ورکړه هم، الله تعالی فرمايي:

[1] أحمد (۴/ ۱۱۴).

{ وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ } [12] }

{او هر څوك چې له اسلامه پرته بل دين لټوي نو هيڅكله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت كې له تاوانيانو وي}.[1] (آل عمران: ٨٥) أحمد روايت كړى دى.

او په صحيح كې له بي بي عائشې -رضي الله عنها- نه روايت دى چې د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي:

{ من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهو رد }

{چا چې داسې يو كار وكړ، چې زموږ په دين كې نه و؛ نو هغه د منلو ندى}.[2] (أحمد روايت كړى دى).

***دا باب پدې اړه دى چې د رسول الله په پيروى باندې بايد پرته له نورو ټولو شيانو څخه بساينه وشي (يعني د هغه پيروى ته په نورو ټولو شيانو غوره والى وركړل شي).***

او د الله تعالى دا قول:

{ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ } [14]

(او موږ پر تا داسې كتاب نازل كړى چې هر شي لره بيانوونكى دى).[3] (النحل: ٨٩).

---

1 آل عمران سورت ٨٥ آيت.

2 بخاري الصلح (2550)، مسلم الأقضية: (1718)، أبو داود السنة (٤٦٠٦)، ابن ماجه مقدمة (١٤) ، أحمد (٦/ ٢٥٦).

3 النحل سورت ٨٩ آيت.

نسائي او نورو له نبي -صلى الله عليه وسلم- نه روايت کړی، چې هغه د عمر بن الخطاب -رضي الله عنه- په لاس کې د تورات يوه پاڼه وليده؛ نو ويې ويل:

{لو كان موسى حيا ما وسعه إلا اتباعي}

{که موسى ژوندی وی، نو زما له پيروی پرته به بله لار نه وه ورپاتې}[1] نو عمر وويل: زه پر الله د رب په توګه، پر اسلام د دين په توګه او پر محمد د نبي په توګه راضي يم.

***باب دی د اسلام له دعوې نه د وتلو په اړه.***

او د الله تعالى دا قول:

{ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَٰذَا }

{هماغه (الله) تاسو ړومبی هم مسلمانان ونوموليئ او په دې (قرآن) کې هم}[2]. (الحج: ٧٨)

له حارث الأشعري -رضي الله عنه- نه روايت دی، هغه له رسول الله -صلى الله عليه وسلم نه روايت کړی، هغه فرماېلي:

{ آمركم بخمس، الله أمرني بهن: السمع، والطاعة، والجهاد، والهجرة، والجماعة، فإنه من فارق الجماعة قيد شبر فقد خلع ربقة الإسلام من عنقه إلا أن يراجع، ومن دعا بدعوى الجاهلية فإنه من جثي جهنم، فقال رجل: يا رسول الله وإن صلى وصام قال: وإن صلى وصام فادعوا الله الذي سماكم المسلمين والمؤمنين عباد الله }

---

1 أحمد (٣/ ٣٨٧)، دارمي مقدمة (٤٣٥).
2 الحج سورت ٧٨ آيت

{په پنځو شیانو درته امر کوم چې الله پرې ماته امر کړی: سمع(اوریدل)، طاعت(پیروي)، جهاد، هجرت، یووالی؛ ځکه څوک چې د یوه لوېشت هومره له جماعت څخه جلا شي، نو د اسلام کړی یې له مری لرې کړله، مګر دا چې بېرته راوګرځي، او چا چې د جاهلیت په چیغه (ناره) بلل وکړل؛ نو هغه د اور له -سوځېدونکو- ډبرو څخه دی، یوه سړي وویل: د الله رسوله که لمونځ هم وکړي او روژه هم ونیسي، ویې ویل: هو که لمونځ هم وکړي او روژه هم ونیسي، نو هغه الله درو غواړئ د الله بندګانو چې تاسو یې مسلمانان او مومنان نومولي یاست}[1]. احمد او ترمذي روایت کړی او ترمذي ویلي: حسن او صحیح دی

او په صحیح کې دي:

{ من فارق الجماعة شبرا فميتته جاهلية } وفيه: { أبدعوى الجاهلية وأنا بين أظهركم }

{څوک چې له جماعته یو لوېشت جلا شو نو مرګ یې د جاهلیت دی}[2] او په دې( حدیث کې دا هم) دي: {آیا د جاهلیت په ناره -بلل کوئ- حال دا چې زه ستاسو په منځ کې یم؟}. أبو العباس ویلي: هر هغه شی چې د اسلام او قرآن له بلنې وځي، که نسب دی، که ښار دی، که جنس یا مذهب یا طریقه ده، نو دا د جاهلیت له ویاړنو څخه دی، بلکې کله چې مهاجر او انصاري سره شخړه وکړه، مهاجر وویل: وای پر مهاجرینو!

---

1 ترمذي؛ الأمثال (۲۸۶۳)، أحمد (۴/ ۱۳۰).
2 بخاري؛ الفتن (۶۶۴۶)، مسلم؛ الإمارة (۱۸۴۹)، أحمد (۱/ ۲۹۷)، دارمي السير (2519).

او انصاري وويل: واى پر انصارو! نو رسول -صلى الله عليه وسلم- وويل:
{ أبدعوى الجاهلية وأنا بين أظهركم؟ }
{آيا د جاهليت په ناره -بلل کوئ- او زه ستاسو په منځ کې يم؟}. او پر دې کار سخت په غصه شو. د هغه خبره ختمه شوه.

### باب دی په اسلام کې د ټول داخلېدو په اړه او له اسلام پرته د هر څه پرېښودل.

او د الله تعالى دا قول:
{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً }
{اى مومنانو! په اسلام کې پوره پوره داخل شئ}[1] (البقرة: ۲۰۸) او د الله تعالى دا قول:
{ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ }
{آيا هغه دې نه دي ليدلي چې ګومان کوي په هغه څه يې ايمان راوړى دى چې پر تا نازل شوي او پر هغه څه چې له تا مخکې نازل شوي}[2] (النساء ۶۰ آيت او د الله تعالى دا قول:
{ يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ } [21]
{په هغې ورځ کې چې ځينې مخونه به تک سپين وي او ځينې مخونه به تک تور وي}.[3] (آل عمران: ۱۰۶ ابن عباس

1 البقرة سورت ۲۰۸ آيت
2 النساء سورت ۶۰ آيت.
3 آل عمران سورت ۱۰۶ آيت.

-رضي الله عنهما- وايي: د اهل سنت والجماعت مخونه سپينيږي او د بدعتيانو او اختلاف کوونکو مخونه توريږي.
له عبدالله بن عمر -رضي الله عنهما- نه روايت دی، هغه وايي: د الله رسول -صلی الله عليه وسلم- وېلي:
{ليأتين على أمتي ما أتى على بني إسرائيل حذو النعل بالنعل، حتى إن كان منهم من أتى أمة علانية كان في أمتي من يصنع ذلك، وإن بني إسرائيل افترقت على اثنتين وسبعين ملة}
{هرومرو به زما پر امت هغه څه راشي لکه پر بني اسرائيلو چې راغلي و، لکه يوه پڼه د بلې په څېر، تر دې چې که له هغوی څخه يوه په علني توګه خپلې مور ته راتګ کړی وي، نو زما په امت کې به هم څوک وي چې داسې به وکړي، او بني اسرائيل په دوه اويا (٧٢) ډلو وېشل شوي وو}[1] حديث وړېسې داسې دی:
{وتفترق هذه الأمة على ثلاث وسبعين فرقة كلهم في النار إلا ملة واحدة - قالوا: من هي يا رسول الله؟ قال: ما أنا عليه وأصحابي}
{او دا امت به په درې اويا ډلو وېشل کيږي، ټول به يې دوزخ کې وي، له يوې ډلې پرته، صحابه و وويل: دا کومه ډله ده د الله رسوله؟ ويې ويل: هغه چې زه او زما ملګري پرې يو}[2]
څومره ښکلې نصيحت دی چې زړونه ژوندي کوي، ترمذي روايت کړی، او أحمد او أبوداود د معاوية له حديثه هم روايت کړی، او په هغه کې دي:

[1] ترمذي الإيمان (2641).
[2] ترمذي الإيمان (2641).

(إنه سيخرج من أمتي قوم تتجارى بهم تلك الأهواء كما يتجارى الكلب بصاحبه، فلا يبقى منه عرق ولا مفصل إلا دخله)

(بې شکه زما له امته به يو قوم راووځي، چې دې نفسي غوښتنو به داسې پسې اخيستي وي، لکه سپی چې خپل خاوند پسې اخلي، نو هيڅ رګ او بند به يې پاتې نه شي، مګر ورداخل به شي). او هغه قول يې وړاندې تېر شو چې: (او د اسلام په وخت کې د جاهلي خويونو لټوونکی).

## *باب دی په دې اړه چې بدعت له کبيره (لويو) ګناهونو څخه هم سخت دی.*

د الله -عز وجل- دې قول ته په کتو:

{ إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ } [24]

{يقينا الله شرك نه بخښي او له دې پرته (نور ګناهونه) چا ته چې وغواړي بخښي يې}.[1] (النساء: ۴۸) او د الله دا قول:

{ لِيَحْمِلُوا أَوْزَارَهُمْ كَامِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۙ وَمِنْ أَوْزَارِ الَّذِينَ يُضِلُّونَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَزِرُونَ } [25]

[د دې لپاره چې دوی خپل پېټي پوره پوره کړي د قيامت په ورځ او د هغو خلقو له پېټو نه (هم پوره کړي) چې دوی

---

1 النساء سورت ۴۸ آيت

يي په جهالت سره ګمراه کوي، خبردار شئ! بد دی هغه څيز چې دوی يې باروي].[1] (النحل: ٢٥)

په صحيح کې راغلي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- د خوارجو په اړه ووېل:

{ أينما لقيتموهم فاقتلوهم } [26].

{چېرته هم چې ورسره مخ شوئ؛ نو ويې وژنئ}.[2]

او په حديث کې دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظالمانو اميرانو سره له جنګ کولو نه منع کړې، تر څو چې دوی لمونځونه کوي.

له جرير نه روايت دی، هغه له عبد الله نه روايت کوي، چې يوه سړي يو خيرات وکړ، بيا خلکو د هغه پيروي وکړه، نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ووېل:

{ من سن في الإسلام سنة حسنة فله أجرها وأجر من عمل بها من بعده من غير أن ينقص من أجورهم شيء، ومن سن في الإسلام سنة سيئة كان عليه وزرها ووزر من عمل بها من غير أن ينقص من أوزارهم شيء }

{چا چې په اسلام کې يوه نېکه طريقه رامنځته کړه؛ نو ده ته د دې طريقې اجر هم دی او چې له ده وروسته پرې څوک عمل کوي د هغوی اجر هم، پرته لدې چې د هغوی له اجرونو څه شی کم شي، او چا چې په اسلام کې يوه بده طريقه رامنځته کړه، نو د دې ګناه به هم پرې وي او چې لده وروسته څوک

---

1 النحل سورت ٢٥ آيت

2 بخاري؛ المناقب (٣٤١٥)، مسلم؛ الزكاة (١٠٦٦)، نسائي؛ تحريم الدم (٤١٠٢)، أبو داود؛ السنة (٤٧٦٧)، أحمد (١/ ١٣١).

عمل پرې کوي د هغوی ګناه هم، پرته لدې چې د هغوی له ګناهونو څه شی کم شي}.[1] مسلم روایت کړی.

او دارمي له ابو هریره نه هم دا حدیث روایت کړی، چې الفاظ یې داسې دي:

{ من دعا إلى هدى - ثم قال - من دعا إلى ضلالة }.

{چا چې یوه ښه کار ته بلنه وکړه -بیا یې وویل- چا چې یوې بېلارۍ ته بلنه وکړه}[2]

باب دی پدې اړه چې الله پر بدعت والا توبه بنده کړې ده.

دا د انس له حدیثه روایت شوی، چې د حسن له مراسیلو څخه دی.

او ابن وضاح له ایوب نه نقل کړی چې ویلي یې دي: موږ سره یو سړی و، یوه رایه(نظریه) یې درلوده چې بیا یې پرېښوده، نو زه محمد بن سیرین ته راغلم، ومې ویل: ته خبر یې چې فلانکي خپله رایه پرېښې ده؟ هغه وویل:زه څه شي ته وګورم نو؟ د حدیث پای پر دوی د حدیث له پیله ډېر سخت وي.دلته د ابن سیرین هدف دا دی چې دوی (خوارج) کله په یوه موضوع کې خپله رایه پرېږدي نو داسې څه ته یې نظر واوړي چې له لومړۍ رایې څخه ډېره ناوړه او بده وي، یعني یو بدعت پرېږدي او بل ته ترې واوړي حال دا چې دویم بدعت

[1] مسلم؛ الزكاة (1017)، ترمذي؛ العلم (٢٦٧٥)، نسائي؛ الزكاة (٢٥٥٤)، ابن ماجه؛ مقدمة (٢٠٣)، أحمد (٤/ ٣٥٩)، دارمي مقدمة (٥١٤).

[2] مسلم العلم (٢٦٧٤) ترمذي؛ العلم (٢٦٧٤) ، أبو داود؛ السنة (٤٦٠٩) ، أحمد (٢/ ٣٩٧)، دارمي؛ مقدمة (513).

به له لومړي څخه ډیر بد وي، خو بده خبره دا ده چې دا دویم ورته له لومړي څخه بنه بنکاري.

{ یمرقون من الإسلام؟ ثم لا یعودون إلیه }،
{له اسلام نه به وځي، بیا به ورته نه راګرځي}.[1] احمد بن حنبل نه د دي معنا وپوښتل شوه؛ نو ویې ویل: د توبې توفیق به نه ورکول کیږي.

***باب دی د الله تعالی د دي قول په اړه"یا أهل الکتب لم تحاجون في إبراهیم"یعني: {ای اهل کتابو! تاسو ولې د ابراهیم په هکله ناندری سره وهئ}***

او د الله تعالی دا قول:

{ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لِمَ تُحَاجُّونَ فِي إِبْرَاهِيمَ }
{ای اهل کتابو! تاسو ولې د ابراهیم په هکله ناندری سره وهئ}[2]. (آل عمران: ۶۵). تر دې قول پورې:

{ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ } [31]
[او دی ( ابراهیم) نه و له مشرکانو څخه].[3] (آل عمران: ۶۷). او دا قول یې:

{ وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُ ۚ وَلَقَدِ اصْطَفَيْنَاهُ فِي الدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُ فِي الْآخِرَةِ لَمِنَ الصَّالِحِينَ } [32]

---

1 بخاري؛ التوحید (۶۹۹۵)، مسلم؛ الزکاة (۱۰۶۴)، النسائي؛ الزکاة (2578)، أبو داود؛ السنة (۴۷۶۴)، أحمد (۳/ ۶۸).
2 آل عمران سورت ۶۵ آیت.
3 آل عمران سورت ۶۷ آیت

[او څوك دى چې د ابراهيم له ملت نه مخ اړوي، پرته له هغه كس نه چې خپل ځان يې جاهل كړى وي او يقينًا مونږه هغه (ابراهيم) په دنيا كې غوره كړى دى او بېشكه هغه په اخرت كې خامخا له صالحانو څنې وي].[1] (البقرة: ١٣٠) او د خوارجو حديث كې دي چې مخكې تېر شو، چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ويلي:

{ آل أبي فلان ليسوا لي بأولياء إنما أوليائي المتقون }،

{د أبو فلانكي ايپل(اولاده) زما دوستان ندي، زما دوستان يوازې پرهېزګاران دي}[2] او په دې حديث كې دا هم دي، له انس نه روايت دى، چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ته ياده وشوه چې څېنې صحابه وايي: هر چې زه يم نو غوښنه به نه خورم، بل وويل: او زه چې يم نو تولله شپه به قيام كوم او ويده كيږم به نه، او بل وويل: زه چې يم -عمري- روژه نيسم او افطار نه كوم، نو رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وفرمايل:

{ لكنني أقوم وأنام وأصوم وأفطر وأتزوج النساء وآكل اللحم فمن رغب عن سنتي فليس مني } [34]،

{خو زه قيام الليل هم كوم او ويده كيږم هم، روژې هم نيسم او بوزه كيږم هم، او ښځې هم په نكاح كوم او غوښنه هم خورم، نو څوک چې زما له سنتو مخ اړوي له ما څخه نه دى}[3]، نو غور وكړه، كله چې څېنې صحابه غوارېي د عبادت لپاره ځان

[1] البقرة سورت ١٣٠ آيت.

[2] بخاري؛ الأدب (٥٦٤٤)، مسلم؛ الإيمان (215)، أحمد (٤/ ٢٠٣).

[3] بخاري؛ النكاح (٤٧٧٦)، مسلم؛ النكاح (١٤٠١)، نسائي؛ النكاح (3217)، أحمد (٣/ ٢٨٥).

وزګار کړي، د هغوی په اړه دومره سخته خبره کېږي او د هغه کار ته له سنتو مخ اړول ویل کېږي، نو څه ګومان کوئ، له دې پرته د نورو بدعاتو به څه حال وي او له صحابه و پرته د بل چا به څه حال وي؟.

***"باب دی د الله تعالی د دې قول په اړه: "فأقم وجهك للدين حنيفا"***

د الله تعالی دا قول:

{ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ }

{نو سم برابر سوچه د دین په لور ورمخه کړه، په هماغه (اصلي) پیداینت ټینګ اوسئ چې په هغه سره الله خلك پیدا کړي، د الله پیدا کړي جوړښت لره څه بدلېدل نه شته، همدا سم برابر دین دی خو زیاتره خلك نه پوهیږي}[1] (الروم: ٣٠).

او د الله دا قول:

{ وَوَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ }

{او په همدې (کلمه؛ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ) باندې ابراهیم هم خپلو زامنو ته وصیت کړی و او یعقوب هم (چې) ای

---

1 الروم سورت ٣٠ آیت.

زامنو! دا دين الله درته غوره کړی؛ نو مه مرئ مګر دا چې تاسې مسلمانان وئ}[1] (البقرة: ۱۳۲) او دا قول يې:

{ ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ } [37]

{بيا مو تا ته (هم) دا وحې وکړه چې د ابراهيم د دين تابعداري کوه چې حق پلوی و او له مشرکانو څخه نه و}[2] (النحل: ۱۲۳)

او له ابن مسعود -رضي الله عنه- نه روايت دی، چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وويل:

{ إن لكل نبي ولاة من النبيين وأنا وليي منهم أبي إبراهيم وخليل ربي }

{بې شکه هر نبي په نورو انبياوو کې دوستان لري، او زما دوست په دوی کې زما پلار ابراهيم دی، چې زما د پروردګار دوست هم دی}[3] بيا يې دا آيت تلاوت کړ:

{ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا ۗ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ }

[بېشکه په خلکو کې ابراهيم ته په رښتيا نږدې خامخا هغه کسان دي چا چې د هغه پيروي کړې ده او دا نبي دی او هغه کسان دي چې ايمان يې راوړی دی؛ او الله د مومنانو دوست دی].[4] (آل عمران: ۶۸) ترمذي روايت کړی

---

1 البقرة سورت ۱۳۲ آيت.
2 النحل سورت ۱۲۳ آيت.
3 ترمذي تفسير القرآن (2995)، أحمد (۱/ ۴۳۰).
4 آل عمران سورت ۶۸ آيت.

او له ابو هريرة -رضي الله عنه- نه روايت دی، وايي: د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- وويل:

{ إن الله لا ينظر إلى أجسامكم ولا إلى أموالكم ولكن ينظر إلى قلوبكم وأعمالكم } [40].

{بې شکه الله ستاسو جسمونو او مالونو ته نه ګوري، بلکې ستاسو زړونو او عملونو ته ګوري}.[1]

او دوی دواړو له ابن مسعود نه هم روايت کړی، هغه ويلي: د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- وويل:

{ أنا فرطكم على الحوض وليرفعن إلي رجال من أمتي حتى إذا أهويت لأناولهم احجبوا دوني فأقول: أي رب أصحابي فيقال إنك لا تدري ما أحدثوا بعدك }.

{زه به پر حوض کوثر ستاسو په انتظار يم، او زما له امته به ما ته څه خلک راوښودل شي، تر دې چې کله زه وغواړم چې اوبه ورکړم، دوی به ما نه پټ کړی شي، نو زه به ووايم: ای ربه، دوی زما ملګري دي، نو وبه ويل شي، ته نه پوهيږې چې دوی له تا وروسته کوم نوي کارونه (بدعتونه، فتنې او ګناهونه) کړي دي}.[2]

او د دواړو(بخاري او مسلم) روايت دی له ابو هريرة -رضي الله عنه- څخه چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- وويل:

---

1 مسلم؛ البر والصلة والآداب (۲۵۶۴).

2 بخاري؛ الفتن (۶۶۴۲)، مسلم؛ الفضائل (2297)، ابن ماجه؛ المناسك (3057)، أحمد (۵/ ۳۹۳).

{ وددت أنا قد رأينا إخواننا قالوا: أولسنا إخوانك يا رسول الله؟ قال: أنتم أصحابي، وإخواني هم الذين لم يأتوا بعد، قالوا: فكيف تعرف من لم يأت بعد من أمتك؟ قال: أرأيتم لو أن رجلا له خيل غر محجلة بين ظهري خيل دهم بهم ألا يعرف خيله؟ قالوا: بلى قال: فإنهم يأتون غر محجلين من الوضوء وأنا فرطهم على الحوض، ألا ليذادن رجال يوم القيامة عن حوضي كما يذاد البعير الضال أناديهم ألا هلم فيقال: إنهم قد بدلوا بعدك فأقول: سحقا سحقا } [42].

{زما دا خوښه ده چې خپل ورونه مې لیدلی وی، صحابه و وویل: آیا موږ دي ورونه نه یو د الله رسوله؟ ویې ویل: تاسو مې ملګري یاست، ورونه مې هغه خلک دي چې تر اوسه ندي راغلي. هغوی وویل: نو ته خپل هغه امتیان څنګه پیژنې چې تر اوسه نه وي راغلي؟ ویې ویل: خبر راکړئ که د یو سړي اوښان وي، سپین تندي او سپین لاسونه پښې یې وي، د تکو تورو اوښانو منځ کې وي، نو دی به خپل اوښان نه پیژني؟ دوی وویل: ولې نه؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم وویل: نو زما امتیان به هم د اوداسه له امله سپین تندي او سپین لاسونه پښې راځي، او زه به له دوی وړاندې حوض -کوثر- ته تللی یم، خبردار! څه خلک به د قیامت پر ورځ زما له حوضه داسي وشړل شي لکه پردی ورک شوی اوښ چې شړل کیږي، زه به غږ ورته کوم چې راشئ، نو وبه ویل شي: دوی له تا

وروسته -دين- بدل کړی دی، نو زه به ووایم: لرې شئ، لرې شئ}.[1]

او د بخاري الفاظ داسي دي:

{ بينما أنا قائم إذا زمرة، حتى إذا عرفتهم خرج رجل من بيني وبينهم فقال: هلم فقلت: أين؟ قال: إلى النار والله. قلت: وما شأنهم؟ قال: إنهم ارتدوا بعدك على أدبارهم القهقرى ثم إذا زمرة - فذكر مثله - قال: فلا أراه يخلص منهم إلا مثل همل النعم }.

{په داسي حال کي چي زه -پر حوض- ولاړ يم يو ټولی به وي، تر دې چي کله يې زه وپيژنم زما او د دوی تر منځ به يو سړی راووځي او وبه واي: راځئ، نو زه ووايم: چېرته؟ وايي: پر الله قسم اور ته. زه ووايم: دوی څه کړي؟ هغه وايي: دو له تا وروسته اوښتي، په خپلو پوندو باندې پر شا تللي، بيا يو بل ټولی وي -بيا يې همغسې حال ذکر کړ-، ويې ويل: نو زه نه وينم چي له دوی څخه دې له ډېرو لږو هاخوا څوک بچ شي}.[2]

او دوی دواړو د ابن عباس -رضي الله عنهما- له حديث نه روايت کړی:

---

1 بخاري؛ المساقاة (2238)، مسلم الطهارة (٢٤٩)، نسائي؛ الطهارة (150)، أبو داود؛ الجنائز (3237)، ابن ماجه؛ الزهد (٤٣٠٦)، أحمد (٢/ ٣٠٠)، مالك الطهارة (٦٠).

2 بخاري؛ الرقائق (٦٢١٥).

{ فأقول كما قال العبد الصالح: { وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ } [44] }

[نو زه هم هغسې وايم لکه نېک بنده چې ويلي و: {او زه تر هغه پرې ځارونکی وم چې په دوی کې وم، خو کله دې چې در واخيستم نو خپله ته ورباندې ځارونکی وې او همدا ته په هر څه ځارونکی يې}.[1] (المائدة: ١١٧).

او دواړو له همده نه مرفوع روايت کړې دی:

{ ما من مولود يولد إلا على الفطرة فأبواه يهودانه أو ينصرانه أو يمجسانه كما تنتج البهيمة بهيمة جمعاء هل تحسون فيها من جدعاء حتى تكونوا أنتم تجدعونها } [45]

{هيڅ نوی زېږدونکی نه وي مګر پر -اسلامي- فطرت زېږېږي، نو مور او پلار يې يا يهودي کړي، يا يې نصراني کړي او يا يې مجوسي کړي، لکه يو ځاروی چې روغ سلامت بل ځاروی وزېږوي، ايا تاسو په کې کوم -د- غوږ يا پوزې وغيره- پرې شوی وينئ، تر دې چې تاسو يې -غوږ، پوزه يا بل ځای- پرې کړئ}[2] بيا ابو هريره دا ايت ولوست:

{ فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا } [46]

---

[1] المائده سورت ١١٧ آيت.

[2] بخاري؛ الجنائز (1292)، مسلم؛ القدر (2658)، ترمذي؛ القدر (2138)، أبو داود السنة (٤٧١٤)، أحمد (٢/ ٣١٥)، مالك؛ الجنائز (٥٦٩).

{فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا}. يعني: په هماغه (اصلي) پيدايښت ټينګ اوسئ چې په هغه سره الله خلك پيدا كړي دي.[1] (الروم: ٣٠) متفق عليه

او له حذيفه -رضي الله عنه- نه روايت دى، هغ وايي:

{ كان الناس يسألون رسول الله -صلى الله عليه وسلم- عن الخير وأنا أسأله عن الشر مخافة أن يدركني فقلت: يا رسول الله، إنا كنا في جاهلية وشر فجاءنا الله بهذا الخير، فهل بعد هذا الخير من شر؟ قال: نعم. فقلت: وهل بعد ذلك الشر من خير؟ نعم وفيه دخن، قلت: وما دخنه؟ قال: قوم يستنون بغير سنتي ويهدون بغير هديي تعرف منهم وتنكر قلت: فهل بعد ذلك الخير من شر؟ قال: نعم فتنة عمياء ودعاة على أبواب جهنم من أجابهم إليها قذفوه فيها، قلت: يا رسول الله صفهم لنا قال: قوم من جلدتنا ويتكلمون بألسنتنا - قلت: يا رسول الله ما تأمرني إن أدركت ذلك قال: تلزم جماعة المسلمين وإمامهم، قلت: وإن لم يكن جماعة ولا إمام؟ قال: فاعتزل تلك الفرق كلها ولو أن تعض على أصل شجرة حتى يأتيك الموت وأنت على ذلك }

{خلكو به له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- نه د خير په اړه پوښتنې كولې، خو ما به له دې ويرې د شر په اړه پوښتنه چې دا شر ما ته و نه رسي، نو ما وويل: اى د الله رسوله، موږ په جاهليت او بدى كې وو؛ نو الله دغه خير موږ ته راوړ، نو آيا لدې خير څخه وروسته بيا هم شر شته؟ هغه وويل: هو. ما وويل: او له هغه شر وروسته بيا نور خير شته؟ هغه وويل:

[1] الروم سورت ٣٠ آيت

هو خو په هغه کې به ګرد وي {یعنې خالص خیر به نه وي}، ما وویل: ګرد يې څه دی؟ ويې ویل: څه خلک به وي چې زما له سنتو پرته به پر نورو روان وي او زما له لارې پرته به يې بله لار نیولې وي، ځینې کارونه به يې تاسو پېژنئ {یعنې د شرعې مطابق به وي} او ځینې نه، ما وویل: له دې خیر وروسته به بیا شر وي؟ ويې ویل: هو؛ ړنده فتنه او د دوزخ په دروازو ولاړ بلونکي، چا چې يې خبره ومنله دوزخ ته به يې وروغورځوي، ما وویل: د الله رسوله د دوی حالات موږ ته بیان کړه، ويې ویل: داسې خلک دي چې زموږ له خلکو څخه به وي او زموږ په ژبه به خبرې کوي، ما وویل: د الله رسوله، که ما دغه وخت وموند نو ته ما ته څه امر کوې؟ ويې ویل: د مسلمانانو له جماعت او امام سره اوسه، ما وویل: او که جماعت او امام نه و بیا؟ ويې ویل: بیا لدې ټولو ډلو ګوښه شه، ولو که د کومې ونې په ډډ خوله ولګوې، تر مرګه همداسې پاتې شه}[1] بخاري او مسلم دواړو روایت کړ او مسلم په کې زیاته کړې:

{ ثم ماذا؟ قال: يخرج الدجال معه نهر ونار فمن وقع في ناره وجب أجره قلت ثم ماذا؟ قال: هي قيام الساعة } [48]

{بیا به څه وي؟ ويې ویل: دجال به له یوه نهر او اور سره راووځي؛ نو څوک يې چې په اور کې ولوېد، اجر يې واجب شو، ما وویل بیا به څه وي؟ ويې ویل: بیا د قیامت قائمېدل

---

1 بخاري؛ المناقب (۳۴۱۱)، مسلم؛ الإمارة (۱۸۴۷)، أبو داود؛ الفتن و الملاحم (۴۲۴۴)، ابن ماجه؛ الفتن (3979)، أحمد (۵/ ۳۸۷).

دي}[1] ابو العاليه ويلي: اسلام زده کړئ، او کله مو چې زده کړ نو بيا ترې مه اوړئ، او په نېغه لاره پاتې شئ ځکه دا اسلام دی، له دې لارې ښي او چپ لور ته مه کږېږئ، او د خپل نبي پر سنتو ټينګ شي او له دې خواهشاتو ځانونه وساتئ. (د ابو العاليه خبره) پای ته ورسيده.

د ابو العاليه په دې خبره کې سوچ وکړه؛ څومره مهمه خبره ده، او هغه وخت هم وپېژنه چې هغه په کې خلک له هغو خواهشاتو منع کړي چې که چا يې پيروي وکړه نو له اسلامه کوږ شو، او د اسلام تفسير يې په سنت کړی دی، او پر لويو تابعينو او علماوو لدې وېرېدلی چې له سنت او کتاب نه و نه وځي، نو بيا به د الله د دې قول معنا درته واضحه شي چې:

{ إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ }

{کله چې هغه ته يې خپل رب وويل: تسليم شه!}[2] (البقرة: ١٣١) او دا قول يې:

{ وَوَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ }

{او په همدې (ويناء؛ اسلمت لرب العالمين) باندې ابراهيم هم خپلو زامنو ته وصيت کړی و او يعقوب هم (چې) ای زامنو! دا دين الله درته غوره کړی؛ نو مه مرئ مګر دا چې تاسې مسلمانان وئ}[3] (البقرة: ١٣٢) او دا قول يې:

---

1 بخاري؛ المناقب (٣٤١١)، مسلم؛ الإمارة (١٨٤٧)، أبو داود؛ الفتن والملاحم (٤٢٤٤)، ابن ماجه؛ الفتن (3979)، أحمد (٥/ ٤٠٤).

2 البقرة سورت ١٣١ آيت

3 البقرة سورت ١٣٢ آيت

{ وَمَن يَرْغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبْرَاهِيمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفْسَهُ }
{او څوك به د ابراهيم له دينه مخ واړوي پرته له هغه چې خپل ځان يې پاګل جوړ كړى وي؟}. [1] (البقرة: ١٣٠) او دې لويو اصولو -چې أصل الأصول دي- ته ورته نور شيان چې خلک ترې غافل دي او په پېژندنې سره يې د هغو احاديثو معنا جوتيږي چې په دې باب او نورو ورته بابونو كې دي، او هغه انسان چې دا او دې ته ورته شيان لولي او پر دې ډاډه وي، چې ده ته څه نه شي ويلى او ګمان كوي چې دا په داسې خلكو كې وو، چې د الله له جزا نه يې ځان خوندي باله، نو د الله له تدبير نه يوازې هغه خلک ځان خوندي بولي چې تاونيان دي.

له ابن مسعود -رضي الله عنه- نه روايت دى، هغه ويلي:

{ خط لنا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- خطا ثم قال: هذا سبيل الله، ثم خط خطوطا عن يمينه وعن شماله، ثم قال: هذه سبل على كل سبيل منها شيطان يدعو إليه وقرأ:

{د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- موږ ته يو خط كش كړ، بيا يې وويل: دا د الله لاره ده، بيا يې د هغه ښي او كيڼ لوري ته نور خطونه وويستل او ويې ويل: دا نورې لارې دي، پر هره لاره يې يو شيطان دى چې بلنه ورته كوي} او دا ايت يې تلاوت كړ:

{ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ } }

---

1 البقرة سورت ١٣٠ آيت

{او دا چي دا زما نېغه سمه لار ده نو پيروي يې وکړئ، او په نورو لارو پسې مه ځئ چي بيا به مو د هغه له لارې خواره واره کړي}[1] (الأنعام: ۱۵۳) أحمد او نسائي روايت کړی.

### باب دی په بيان د ناأشنايي (ځانته والي) د اسلام او د لړکيو په فضيلت کې

او د الله تعالى دا قول:

{ فَلَوْلَا كَانَ مِنَ الْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُولُو بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ الْفَسَادِ فِي الْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْ }

{نو ولې تاسو نه مخکې قومونو کې داسې د خير خلك موجود نه شول؛ چې په ځمکه کې يې له فساده منع کړې وی، پرته له هغو لږو کسانو چې هغوی مو ترې وژغورل}[2] (هود ۱۱۶ آيت) او له أبو هريرة نه مرفوع روايت شوی:

{ بدأ الإسلام غريبا وسيعود غريبا كما بدأ، فطوبى للغرباء } [54]

{اسلام ناأشنا (په لږو پيروانو) پيل شوی او ژر به بېرته هماغسې ناأشنا شي (پيروان او مرسته کوونکي به يې لږ شي) څنګه چې پيل شوی و، نو لړکيو ته خوشحالي ده}.[3] مسلم روايت کړی او أحمد د ابن مسعود له حديث نه روايت کړی، په هغه کې دي:

---

[1] الأنعام سورت ۱۵۳ آيت
[2] هود سورت ۱۱۶ آيت
[3] مسلم؛ الإيمان (۱۴۵)، ابن ماجه؛ الفتن (۳۹۸۶)، أحمد (۲/ ۳۸۹).

{ من الغرباء؟ قال: النزاع من القبائل والذين يصلحون إذا فسد الناس }.
{ناآشنا څوک دي؟ ویې ویل: له قبایلو راجلا شوي خلک او هغو چې د خلکو د فساد پر وخت اصلاح راولي}[1].
ترمذي د کثیر بن عبد الله له حدیث نه، هغه له خپل پلار نه، له نیکه نه یې روایت کړی:
{ فطوبى للغرباء الذين يصلحون ما أفسد الناس من سنتي }.
{نو خوشحالي ده هغو غریبانو (لږو خلکو) ته چې زما د سنتو هغه څه اصلاح کوي چې خلکو فاسد کړي دي}[2].
له أبي أمية نه روایت دی، هغه ویلي: ما له أبو ثعلبة نه پوښتنه وکړه، په دې آیت کې ته څه وایې:
{ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ ۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ }
{ای مومنانو! د خپلو ځانو غم کوئ، د بل چا بې لارېتوب کوم تاوان نه درته کوي خو چې خپله پر سمه لار یاست}[3]
(المائدة: ١٠٥) هغه وویل: په الله قسم په دې اړه مې له یوې سړي نه پوښتنه کړې،
{ سألت رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فقال: بل ائتمروا بالمعروف وتناهوا عن المنكر حتى إذا رأيتم شحا مطاعا وهوى متبعا، ودنيا مؤثرة، وإعجاب كل ذي رأي برأيه، فعليك بنفسك، ودع عنك العوام، فإن من ورائكم أياما الصابر فيهن

1 أحمد (٤/ ٧٤)
2 ترمذي؛ الإيمان (٢٦٣٠)
3 المائده سورت ١٠٥ آیت

مثل القابض على الجمر، للعامل فيهن أجر خمسين رجلا يعملون مثل عملكم قلنا: منا أم منهم؟ قال: بل منكم }
{له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- نه مې پوښتنه وکړه؛ نو ويې ويل: بلکې نېکي کوئ او خپلو کې يو بل ته امر کوئ او له بدی ځان ساتئ او يو بل ترې منع کوئ، تر دې چې وګورئ چې خلک د بخل اطاعت او د نفسي خواهشاتو پيروي کوي او دنيا پر اخرت غوره بولي، او هر چا ته خپله رايه ښه ښکاري، نو بيا يوازې د ځان غم کوه او نور خلک پرېږده، ځکه وروسته مو داسې ورځې راروانې دي چې صبر کوونکی په کې داسې دی لکه موټې کې يې چې سکروټه نيولې وي، عمل کوونکي ته په کې د پنځوسو هغو کسانو اجر دی چې ستاسو په څېر عمل کوي، موږ وويل: له موږ نه که له دوی نه؟ ويې ويل: بلکې له تاسو نه}[1]. ابو داود او ترمذي روايت کړی.

ابن وضاح يې معنا د ابن عمر له حديثه روايت کړې او لفظ يې داسې دی:

{ إن من بعدكم أياما للصابر فيها المتمسك بدينه مثل ما أنتم عليه اليوم، له أجر خمسين منكم }
{تاسو نه وروسته داسې ورځې راروانې دي، چې صابر سړی به په کې هغه وي چې په دغه دين منګولې ټينګې کړي، پر کوم چې نن تاسو ياست، هغه ته به ستاسو د پنځوسو تنو اجر وي}[2]. بيا يې وويل: محمد بن سعيد موږ ته خبر راکړی، هغه وايي اسد خبر راکړی، چې سفيان بن عيينة وويل: له

1 ترمذي تفسير القرآن (3058)، ابن ماجه الفتن (۴۰۱۴).
2 ترمذي تفسير القرآن (۳۰۵۸)، ابن ماجه الفتن (۴۰۱۴)

بصري نه روایت دی، د حسن له وورور سعید نه مرفوع، هغه ویلي:

{ إنكم اليوم على بينة من ربكم، تأمرون بالمعروف وتنهون عن المنكر وتجاهدون في سبيل الله، ولم يظهر فيكم السكرتان: سكرة الجهل، وسكرة حب العيش، وستحولون عن ذلك، فالمتمسك يومئذ بالكتاب والسنة له أجر خمسين، قيل: منهم؟ قال: بل منكم }

{بې شکه تاسو نن ورځ د الله له لوري پر ځرګند دلیل (ثابت) یاست، پر نېکیو امر کوئ او له بدیو منع او د الله په لار کې جهاد کوئ، او په تاسو کې دوه نشې (بې هوښی) ندي راښکاره شوي، یوه د ناپوهی او بله د ژوند د مینې، او له دې حالته به تاسو اوړئ، نو په هغه وخت کې به پر کتاب او سنتو منګول لګوونکي لپاره د پنځوسو کسانو اجر وي، وویل شو: له هغوی څخه؟ ویې ویل: بلکې له تاسو څخه}. او ده په سند سره له معافري نه روایت کړی، هغه وایي: د الله رسول - صلى الله عليه وسلم- وفرمایل:

{ طوبى للغرباء، الذين يتمسكون بالكتاب حين يترك، ويعملون بالسنة حين تطفأ } [60].

{هغو نا اشنایانو ته خوشحالي ده، چې په داسې وخت کې پر کتاب (قرآن) منګولې لګوي چې هغه پرېښودل شوی وي او په داسې وخت کې پر سنتو عمل کوي چې هغه مړه شوي وي}.[1]

---

1 أحمد (٢/ ٢٢٢)

## باب دی له بدعت نه د ځان ساتنې په باره کې

له عرباض بن سارية نه روايت دی، هغه وايي:

{وعظنا رسول الله -صلى الله عليه وسلم- موعظة بليغة، قلنا: يا رسول الله كأنها موعظة مودع فأوصنا قال: أوصيكم بتقوى الله -عز وجل- والسمع والطاعة، وإن أمر عليكم عبد، وإنه من يعش منكم فسيرى اختلافا كثيرا، فعليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين، عضوا عيها بالنواجذ، وإياكم ومحدثات الأمور، فإن كل بدعة ضلالة } [61]

{د الله رسول -صلى الله عليه وسلم- موږ ته يو له پنده ډک نصيحت وکړ، نو موږ وويل: د الله رسوله، داسې نصيحت و لکه د رخصت اخيستونکي سړي، نو موږ ته وصيت وکړه، وېې ويل: الله -عز وجل- نه د وېرې وصيت درته کوم، او د سمعې او طاعت اګر که يو مريې پر تاسو مشر شي، او که تاسو نه څوک ژوندی پاتې شي ډېر اختلافات به وويني، نو تاسو زما او د راشدينو خلفاوو چې پر سمه لار دي؛ پر سنتو ټينګ پاتې شئ، نواجذ (د ژامې) غاښونه مو پرې کلک کړئ، او له نويو پيدا شويو کارونو ډډه وکړئ، ځکه هر بدعت بې لارې ده}[1] ترمذي ويلي: حسن صحيح حديث دی

له حذيفة نه روايت دی، هغه ويلي: هر عبادت چې د محمد ملګري يې نه کوي، نو تاسو يې هم مه کوئ، ځکه مخکينيو وروستنيو ته هيڅ خبره نده پرېښې، نو ای د قاريانو توليه! له الله نه ووېرېږئ او د هغو خلکو لاره ونيسئ چې تاسو نه

---

[1] ترمذي؛ العلم (٢٦٧٦)، أبو داود؛ السنة (٤٦٠٧) ، ابن ماجه؛ مقدمة (٤٤)، أحمد (٤/ ١٢٦) ، الدارمي مقدمة (95).

مخکې دي، ابو داود روایت کړی دی. دارمي وېلي: ما ته حکم بن المبارک خبر راکړی، هغه وایي عمرو بن یحیی خبر راکړی، وایي: له خپل پلار نه مې واورېدل، هغه له خپل پلار نه روایت کاوه، چې ویل یې: موږ به د سهار له لمانځه وړاندې د عبد الله بن مسعود دروازه کې کښېناستو، کله به چې هغه راووت موږ به ورسره جومات ته روان شو، نو ابو موسی الأشعري راغی او ویې ویل: آیا ابو عبد الرحمن راوتلی؟ موږ وویل: نه، نو دی موږ سره کښېناست، کله چې هغه راووت ویې ویل: ای ابو عبد الرحمن!، ما جومات کې داسې کار ولید چې خوښ مې نه دی، او الحمد لله یوازې خیر مې لیدلی دی، ویې ویل: څه شی دې لیدلی؟ نو ویې ویل: که ژوندی وې نو ډېر ژر به یې وګورې، ویې ویل: جومات کې مې څه خلک ولیدل چې ګرد ناست وو او د لمانځه انتظار یې کاوه، په هره حلقه کې یو سړی وي او د دوی په لاسونو کې کوچني کاڼي وي، نو دی وایي: سل ځل تکبیر ووایئ، نو سل ځل تکبیر ووایي، بیا وایي: سل ځل کلمه طیبه ووایئ، نو سل ځل کلمه ووایي، بیا ووایي: سل ځل تسبیح ووایئ، نو سل ځل تسبیح ووایي. وایي: نو تا ورته څه وویل: ویې ویل: هیڅ مې ورته و نه ویل، ستا امر ته انتظار یم، ویې ویل: ایا تا دا امر ورته و نه کړ چې خپلې بدۍ وشمېري او د دې ضمانت به دې ورکړی و چې له نېکیو به یې هیڅ شی نه ضایع کیږي؟ بیا ولاړ او د هغوی حلقو ته ورغی، نو ویې ویل: دا څه دي؟ هغوی ورته وویل: کوچني کاڼي دي تکبیر، تهلیل او تسبیح پرې شمېرو، ویې ویل: نو تاسو خپلې بدۍ وشمېرئ او د دې زه ذمه وار یم چې له نېکیو به مو هیڅ شی نه ضایع کیږي، خوار شئ د محمد

امته! هلاکت مو ځومره تېز دی، دغه ستاسو د نبي رسول الله -صلی الله علیه وسلم- ملګري شته دی، او دا یې جامې دي چې لا ندي زړې شوي او لوښي یې لا ندي مات شوي، قسم پر هغه ذات چې زما ساه د هغه په واک کې ده، تاسو ښایي پداسې دین یاست چې د محمد له دین نه به ډېر سهي وي او یا به د بې لارۍ د لارې پرانیستونکي یاست، هغوی وویل: قسم په الله ای ابو عبد الرحمنه، موږ یوازې د خیر اراده لرله، هغه وویل: او ځومره د خیر غوښتونکي شته چې هغه ته نه رسیږي. د الله رسول-صلی الله علیه وسلم- موږ ته حدیث بیان کړ، چې یو قوم قرآن لولي خو له مریو ځخه یې نه تېرېږي، پر الله سوګند چې ډېر یې ښایي له همدا تاسو ځخه وي، عمرو بن سلمة بیا وویل: د دوی ډېری موږ ولیدل چې د نهروان پر ورځ یې خوارجو سره زموږ پر ضد جګړه کوله.

فهرست


.د اسلام فضيلت ........................................................................ 2
باب دی په فرضيت د اسلام کې........................................................ 2
باب دی د اسلام په تفسير کې......................................................... 5
باب دی د الله تعالی د دې قول په اړه" :ومن يبتغ غير الإسلام دينا فلن يقبل منه "يعنې :او هر څوك چې له اسلامه پرته بل دين لټوي نو هېڅکله .به ترې قبول نه شي ........................................................................ 7
دا باب پدې اړه دی چې د رسول الله په پيروۍ باندې بايد پرته له نورو ټولو شيانو څخه بسا ينه وشي)يعنې د هغه پيروۍ ته په نورو ټولو شيانو .(غوره والی ورکړل شي ........................................................ 8
.باب دی د اسلام له دعوې نه د وتلو په اړه ........................................ 9
باب دی په اسلام کې د ټول داخلېدو په اړه او له اسلام پرته د هر څه .پرېښودل........................................................................ 11
باب دی په دې اړه چې بدعت له کبيره)لويو (ګناهونو څخه هم سخت .دی ............................................................................ 13
باب دی د الله تعالی د دې قول په اړه"يا أهل الكتب لم تحاجون في إبراهيم"يعنې} :ای اهل کتابو !تاسو ولې د ابراهيم په هکله ناندرۍ سره {وهئ.............................................................................. 16
"باب دی د الله تعالی د دې قول په اړه" :فأقم وجهك للدين حنيفا" .... 18
باب دی په بيان د ناشنايۍ )ځانته والي (د اسلام او د لږکيو په فضيلت کې.............................................................................. 28
باب دی له بدعت نه د ځان ساتنې په باره کې................................. 32


ps168v1.0 - 03/09/2026